# زه په یوه کلمه پوهیږم چې که ویې وایي، نو غصه به یې لاړه شي، که چېرته: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ) یعنې: زه له شیطان څخه په الله پناه غواړم ووایې: نو هغه څه به ترې لاړ شي چې دی ورسره مخ دی

د سليمان بن صرد رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وم چې دوو کسانو سره يو بل ته کنځلې کولې، نو د يو مخ سور شو او د مر رګونه يې (له ډېرې غصې) راوپړسېدلې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: "زه په یوه کلمه پوهیږم چې که ویې وایي، نو غصه به يې لاړه شي، که چېرته: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ) يعنې: زه له شيطان څخه په الله پناه غواړم ووايې: نو هغه څه به ترې لاړ شي چې دی ورسره مخ دی" نو هغوی ورته وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي چې: له شيطان څخه په الله پناه وغواړه»، هغه وويل: آيا پر ما ليونتوب دی؟

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

دوو کسانو د رسول الله صلى الله عليه وسلم پر وړاندې سره يوبل ته کنځلې وکړې، په داسې حال کې چې د يو مخ سور اوښتی و، د مر خواوشا رګونه يې پړسېدلې وې. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه داسې يوې کلمې باندې پوهېږم چې که دا غصه کوونکی يې ووايي غصه به يې لاړه شي، که چېرته: أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ووايي. نو هغوی ورته وويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وايې چې له شيطان څخه په الله پناه وغواړه. هغه وويل: آيا زه ليونی يم؟! دا ګمان يې وکړ چې يوازې ليونی انسان له شيطان څخه پناه غواړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3578

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee